مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: پروفیسورعبدالخالق رشید
د نهرو پوهنتون د پښتو څانګې استاد

۲۰۲۲/۱۲/۰۳

# رشاد پوهنه

## د علامه رشاد د اتلسم تلین په درشل کې

سـســـریـــزه:



وایي چې دیونان نامتو پوه اپلاتون به ویل :« زه مې له خدایه مننه کوم چې زه یې د سقراط په زمانه کې هست کړی یم ». که زه اوماغوندې یو شمېر هم ووایو چې موږ نیکمرغه یو چې په داسې زمانه کې راهست شو چې په هغې کې داسې کسان لکه رشاد اوحبیبي زموږلارښود شول، دا به ډېره بې ځایه اوبې معناخبره نه وي، ځکه دوی زموږ لارښود شول ، دوی موږ ته لارښونه وکړه اودوی په خپل وخت کې زموږعلمي نړۍ را وپنځوله اوموږ ته د زده کړې په موخه ډېرخه دیوه لوی ناویلي اونا سپړلي سمندرپه څېردعلم په دنیا کې دخپل تلپاتې میراث په توګه را پرېښودل...
پوهاند رشاد اوس په داسې کسانو کې نه راځي چې په هغه باندې باید دیوه قام ، دیوې ژبې ، دیوه ملت اویوه هیواد دعلمي ټولنوسراوچت وي بلکې دغه نومیالی انسان دخپل کمال له امله دعلم په اوچت آسمان کې اوس دستوروراو لمرونو په حساب کې راځي، په دې معنا چې دانساني پوهې اوسنی منزل ګاه دهمدغو( دستورو) پرپوله باندې ولاړه ده. دبشري پوهې کاروان اوس دعلم اوپوهې دستورو پرلور دعلمی ستورو په برکت روان دی اوتوله هڅه یې پردې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پسي ده چي په دغه راز باندې بايد ترهرڅه دمخه ځانونه پوه اوپه دغه تګلوري کې يوه نوې خبره، يونوی کشف داسي چي دانسان، هغه هم دااوسنی لاوروکی انسان لکه زموږله پاره مهمه اولاربنوده وي په نښه کړي.
دستورو پرلوردهڅي يوه بله معنادا هم ده چي که اوسني زور واکی په همدغه اوسني زورزياتي اوانحصاري جبرسره پر انسانانو باندې په بيلابيلو بڼو همداسي برلاسي اوظالم روان وي، نوداروښانه ده چي د انسان داصلي ټاټوبي برخليك اولوی هويت خوله شکه پرته ديوه تورتم په منګولکي لويدونکي دی، په دغه حال کې پرته له دې چي بشريت او انسانيت ته ستوري دنوح بيړی شي په بل څه يې ژغورنه هم نه کيدونکې ده. همداده چي پوهه دخپل پاينت له پاره نن سبا دستورو پرلوردخپل کاروان لاره وروباسي.او پردې باوري ده چي له ستوروسره امن دی، له ستوروسره مينه اوپرهغو پسي خوځيدنه اوهڅه په خپل وارهغه انساني وړتياده چي انسان دامن او خوښئ اوپرمختګ پرلور لاربنوونه کوي.
د همدغه ټکي اوهمدغي انساني پاملرني په پام کي نيولو سره اوس داپوښتنه هم طرح کيدای چي آيا ستورپيژندنه ګرانه ده که آسانه ؟ کله چي موږله هرچا داډول پوښتني کوو،يوه خبره مو بايد په پام کي وي اوهغه داچي دداسي چا له پاره چي په معاصره پوهه اواوسنيو وسايلو باندې برلاسی ونه لري دا خبره په خپل ذات کي يوه نادره او په ځينو وختو کي ناشونی هڅه اوخواب دی. ځکه ديوهانواومفکرينوپه نظرداکار يواز ی په هغه حالت کي په سمه توګه ترسره کيدای اوپيژندل کيدای شي چي ديوهي عيني لارې لومړی په ګوته اوبيا ددغي هڅي له پاره په عملي توګه برابرې شي. له بله پلوه داهم اړينه ده چي ددغه ګران کارله پاره بايد په يوه ملت کي بايد دومره علمي اومادي زورپيداشي څوپه دغه لاره کي ګام اوچت کړاي شي په دغه حال کي بيا يوملت اويوه ټولنه ترډيره حده کولای شي چي هم ستوري وپيژني،هم خپل وياړونه اوهم کولای شي چي دهرچا په وړاندې پرې ووياړي.
رشاد پوهنه هم زموږ په وړاندې له موږسره همداسي دځانګړو ادبی اوټولنيزوعلومو په برخه کي دمعاصرې نړی بوو ياړدی اويو وياړبه وي. که څه هم رشادپوهنه اوزما دا نومونه يوه نوې خبره ده، خوڅه چي نن يې تاسي دلته لولئ اوس دخپلي ودې په ترڅ کي ديوشميراذهانو په وړاندې په علمي لحاظ د ذهنيت ګوزارونه خوري،په دې معناچي ددغه اصل په علمي ارزښت دعلمي کره کتني په رڼاکي ډيرخلك يانه پوهيږي اوياداچي ځان ته دا قناعت نه شي ورکولای چي وېې مني . همداده چي له يوې خوا وخت ته اړتياده اوله بلې خوا په علمي لحاظ دې ته اړتيا ده چي د ذهنيت ځای بايد يونګه او پرمنطق پوره عينيت ونيسي.دهرايجادي ( creative ) فکراونظر(Idea)په وړاندې دغه دوه پړاوونه په اړينه توګه طرح کيږي چي ديوه اوږده بهيرپه پای کي دخپل ثمر(منبتت ) پړاوته رسيږي.چي له نيکمرغه رشادپوهنه ديوې تجربه شوې علمي آزموينې په توګه د برياليتوب په ډګرکي په عملي اونظري توګه اوس دعلمي منبتت پړاوته رسيدلې ده.
زه په دې باوري يم او دا يوه دنيکمرغی خبره ده چي رشاد پوهنه
(Rashad studies)اوس په خپله ددغه اوچت انسان او پوه (علامه رشاد) په ژوند دعينيت پړاو ته ورسيده. ددې خبرې معنا دانه ده چي موږ داخبره په وچ جبر اوداحساساتو په زورسره ددې له پاره کوو چي ګواکي پريوچا يې بايد ومنو،نه دا دعلم کار دئ ،زموږ اوديوزيات شميرنورو داشان طرحي اودرشادپوهني راڅرګندول په هغه کاراوتلاش پورې اړه لري چي دانساني ژوند دبيلابيلو اړخوپه اړه استاد رشاد ترسره کړي دي.رشاد پوهنه په يوه وړه دايره باندې نه راڅرخي بلکي دادعلومو داسي يوه سپيروني ده چي دپوهي اوفرهنګی اوعالي معنويت لارويان (انسانان ) پر روښانه سباوون ورمخامخ کوي. که چيرې موږ رشادپوهنه ديوې شانداراودنګي مانۍ په توګه فرض کړونودابه هم ورسره تړلي وي چي ددغې دنګي اواوچتي مانۍ ستني به پښتو، فارسي ، هندي ، اردو ، عربي ، روسي او سانسکريت ژبې اوتمدنونه وي. هغه ژبې اوتمدنونو چي دخپلو علمي ستولو امله په خپل ذات کي ديوه ځلاند انساني لرغوني هڅوب (تمدن ) سره هم تړاولري. ديوچا ، ديوې ټولنې ديوه اړوند انسان په وړاندې دا ډيره ساده خبره نه ده، چي دخپل ژوند په ترڅ کي د مقبوليت داسي پړاوته ورسيږي چي پرهغه باندې داووژبو،اوتمدنواو اووو ولسونو سترګورانسانان په دې وياړي چي دغه انسان چي له دوی سره په يوه سيمه،يوه هيواد او يوه کلي کورکي نه او سيږي اونه اوسيدلی، خو اندوژوند يې له دوی سره شريك شوی دی دابه نه يوازې دوی ته بلکي ټول بشريت ته له شکه پرته يولوی علمي زيری اووياړوي .
زه دم ګړی په دې باره کي دومره ويلای شم چي رشاد پوهنه نن سبا په شرقي علمي نړۍ کي دحقايقودڅيړنې له پاره يوه نوې موضوع اويونوی علمي زياتوب اوتګلاره ده ، په دې معنا چي په دغه علم کي ان له ساده سياست پوهني رانيولي بياتراوسنی ستورپوهني پورې حقايق اوفکتونه په ګوته شوي دي. هغه چي په پورتنيوژبو، ټولنواو خلکو پورې په نيغه توګه اړه لري.همداده چي ددې ګردو ارزښتونو په پام کي نيولو سره سړی دا په پوره باورسره ويلاشي چي:
رشاد پوهنه دخپل ماهيت له مخي دژوند، شيانواوحقايقو يوه جالبه ايجادي طرحه اود ټولنيز ژونددمعنوي هستی اوڅرګندتيا يو مثبت انعکاس اوپه عين حال کي دانساني ژوند عيني او سمبوليکه تجربه ده چي دځانګړو کلتورونواو فرهنګونودپاملرني وړارزښتونه اوحقايق په ګوته کوي اودهغو ستاينواله او پاسواله ده، ځکه چي په هغې کي دانساني تجربو اوهمدارازدعقيدتي وياړونواويادونو څرګندونه په خپل اوچت معنوي ارزښت او وړتياسره انعکاس شوی ده .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

رشادپوهنه دانسان او طبعیت دتوضیح او تشریح داسي فلسفه ده چي په معاصره نړۍ کي دیوزیات شمیرپوښتنو له پاره خپل (ځانګړي) ځوابونه لري . داسي یوه پانګه ده چي په هغي کي کولای شئ دلویډیزوالو په ژبه داسي مادلونه، میتودونه او بیلګي ومومئ چي دانسانیت خورا مهم او دپاملرني وړخویونواو کردارونه چي د ژوند او تاریخ په رڼاکي په مادی اومعنوي لحاظ هست شوي تجربه کړئ.

درشادپوهني په ترڅ دزیاترو ټولنو ژوند، تاریخ ، فوکلور، ادبیات، جغرافیا او دهنر بیلابیل ډولونه هغه څه چي دانسانانو په بیلابیلو پښتونواو نسلونو پوره اړوند دي څیړل شوي دي . رشادپوهنه نه یوازی داچي یوتیوریکي ویاړاودیوه نړۍ لید لړۍ ده بلکي داد عملي ژوند یو داسي روزنیز پوهنځی (School Educational) هم دي چي په سلګونو کسانودلته زده کړې او په هغه کي یي خورا زیات ارزښتونه دانسان دروزني ، وینتیا او پالني په خاطر زده کړي او زده کوي یي .

هو،دغه کرد ارزښتونه(values) دي چي په رشاد پوهنه کي ځان برجسته او دپاملرني وړکوي، زما یوه هیله اوغوښتنه له پخوا څخه تراوسه داوه او ده چي درشاد او رشاد پوهني پیژندنه او مطالعه دانفرادي ارادت او درناوي له محدودې پورته دعلم اوانساني دیسکورۍ په وړاندي پرېښودل شي، پوهان اوعالمان باید ددغي افغاني برپایه پلودیوی نوي علمي او اکاډیمیکي نړیوالي طرحي اوڅیړني دلاکشف اومعرفۍ اوبډایتوب په فکرکي شي،په دې خاطرچي دالویه اودپاملرني وړزیرمه په اوسنۍ زمانه کي دیوه بامسوولیته نابغه داوړدې مودې اوپرله پسي کاراوهڅوپایله اوعلمي پایله ده.

رشاد په دغه زمانه کي له هغو کسانو څخه دی، چي دعصري وسایلو لکه تایپ اوکامپیوټرله کارولوپرته یي دومره کاروکړ چي اوس بې دیوې وړې زماني مودې په اوږدو کي ان چي خپله کامپیوتر(computer) یي هم راټولو او سروسامان ورکولو ته ګوته په غاښ دی.

دلومړي ځل له پاره چي دکابل پوهنتون فرهنګي شورا(په هغه مهال چي زه یي مسوول وم ) او دخوشال فرهنګي ټولني داستاد رشاد اوویاکلني په شانداره توګه دکابل پوهنتون دعلمي شورا په تالارکي ونمانځله، ما هغي غونډې ته دعلامه رشاد رشاد داویا توګه کتابونو پیژندګلوي وړاندي کړه،کله چي داستاد دژوند اوآثارو په اړه دغه پیژندګلوي ماکښله، ده په خپله علمي لورینه او مهرباني دا خبره راته وکړه: « داچي دغه کارته دملاوتړله او ارام مي نه پرېږدي نوزه باید خپل ټول آثارستاپه مخ کي کیږدم ، ته باید هغه وګوري او بیا باید دهغو په باره کي څه ولیکې ...»

په رښتیاهم ماخوورځي داکاروکړاوداستاد هغه لنډه بیوګرافي مي په هغو حالا توکي چي لکه دنن په شان دپردیو په وړاندي دآزادۍ اومقاومت د اوج کلونه او شپې ورځي وو ولیکله. هلته ماته څرګنده شوه چي رشادپوهنه اورشادپیژندنه یعني څه؟

درشادپوهني دڅیړني یوه تلپاتي برخه،سرچینه او یوه سپارښتنه هند اوهند پیژندنه ده ، زموږ ادب اوفرهنګ په اوږده تاریخ کي دري افغاني مفکرین او نابغه ګان داسي رامنځ ته شول چي ددوی آثاراوافکاردهند پوهني (Indology) په پیژندنه کي خورا مهم او دپاملرني وړدي ،دغه درې کسان ابوریحان البیروني،خوشحال خټك او استاد رشاد دي،دلته ترټولو مهمه موضوع دا ده چي نوموړو دریوافغاني مفکرینو په دغه باب په اتکلي توګه فکرنه دئ کړی ، دوی په دغه علمي رمزورازکي په شعوري توګه یوداسي هدف په نښه کړی چي هغه دانساني ژوند له بنسټ اوتجربوسره په هراړخیزه توګه نه شلیدونکي اړیکي لري ،په هند پوهنه کي زموږ اودزیاترو آسیایي خلکو دژوند، تاریخ اوتجربو یواوږده لړۍ دتاریخ په بیلابیلو پړاووکي خوندي ده، زموږ داندوژوند اوزموږ دژوند اوتجربو، زموږ دباورونودکاروان برخلیك دانسانی ژوند په خورا حساسو وختوکي په دغه پوهه پورې اړه لري،او یاپه بله او وروستی وینا هند زموږ دمورنۍ خاورې دویاړونو اوتلپا تي کارناموا وعلمي تجربواومیراثونو روښانه سیمه ده. په دغه سیمه کي دآریاني اوافغاني تمدن ویاړونه تراوسه پورې ژوندي پاتي دي اوتراوسه پورې په هغو باندې ددغه هیواد دمادي اومعنوي ژوند کاروان روان دی ، دتاریخ په اوږدوکي چي زموږ پلرونو اونیکونه کوم علمي میراثونه راایجاداو سمبال کړي، هغه له هنده پرته په بل ایواد او بله سیمه کي نه پاتي دي او نه هم موندل کیږي ، زموږ دژبو ، زموږ دباورونو اوزموږ دتمدن او اوچت ژوند یادونه او خاطرې تراوسه پورې په همدغه پوهه (هند پوهنه ) کي خوندي پاتي دي،کله چي سړی اوس هم دسمسوراو آباد هندستان په اوږدو او لنډو کي وګرزي داسي لکه چي البیروني ګرزیدلی ، داسي لکه چي سترخوشال ګرزیدلی او داسي لکه چي علامه رشاد ګرزیدلي،هغه په دې پوهیدای شي چي انسان یعني څه؟ انسانیت یعني څه؟ اوپه پای کي په هندکي زه، زما فرهنګ ، تاریخ اوزما نورې ماسي او حماسي یعني څه ؟

کله چي یوڅوك دځان اوخپل برخلیك په باب دغه شان پوښتنوته په آسانۍ سره ځواب موندلای شي په دې کي شك نشته چي هغه په رمزاو راز پوه انسان به له هنداودغي ګردي سیمي سره په کلکه لیوالتیا اومینه کي ژوند ونه کړي ، همداده چي نوموړو نومیالیو په دغه باره کي زموږ دتاریخ په دریو بیلا بیلو پړاوونو کي دومره ژورفکرکړی چي ساری یي په علمي نړۍ کي نه ترسترګوکیږي، ددوی دآثارو له مخي هند پوهنه زموږ دتیرژوند، دهغه ژوند چي له موږ یي پټه ورکه وه او لاورکه ده داسي هنداره ده چي که لږ په څیرسره په کي وګورو نوبیاکولای شو په هغه کي دخپلوتیروتجربواوآزموینتونوډیره ښه ننداره وکړواورشادپوهنه زموږ ددقیق شناخت اوپیژندني په دغه برخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کې په علمي اوتمدني توګه دیوویشتمي پیړۍ په دغه ساینسي اوتکنالوژیک بهیرکې زموږدېره ښه لارښونه کولای شي.

**برسیره** پرپورتنیوخبرواویادونود رشاد پوهنې له بنسټیزواړخونوڅخه یوبل هم دهغې ادبی اړخ، ادب څېړنه اوپه دغه ترڅ کې دعلامه رشاد مهارتونه اوتجربې دي، زه پردې باوریم چې ادبیات دهغو ایجاد اوشننې چې دوې بیلې برخې دي، په رشاد پوهنه کې دخپل رسالت په اوج اوهسکوکې مطالعه کیدای شي. په رشاد پوهنه کې کیدای شي یوشمیرادبیات په ساده توګه دیولړسرګرمیواوبوختیاوو په ترڅ کې د ورځیني ژوند اوبوختیاووڅخه پریوه خوا په نښه شي، چې دغه ادبیات بیا کولای شي خپل لوستونکي له ګواښونو، تماسونواوغوښتنوسره مل په ګوته کړي، خوپه عین حال کې په دغه اړه مهمه اوعلمی خبره داده چې ترټولو ښه انځورشوي اوایجاد شوي ادبیات تل خپل لوستونکي ته یوڅه،هم ورکوي اوهم یي وربښیی چې یا باید وخاندي، یا وژاړي ، حیران شي ،تحلیل وکړای شی اوپه عین حال کې یوذهنی اوعیني تفاهم رامنځ ته کړي.

رشاد پوهنه په ادبی برخه کې موږته داراپه ګوته کوي چې موږدخپل ژوند په اوږدوکې تل ددې له پاره هڅه کووچې له خپلواحساساتو، خپلوتجربو اوله نوروسره دخپلواړیکو په اړه دتماس اوتفاهم تګلاره له یاده ونه باسواوپه عین حال کې داخبره هم موږ ته را په ګوته کوي چې باید له پراخو پرګنو اوکلتوري جوړښتونوسره دخپلواړیکو په پاره خپل دفاعي دریځ اوحالت هم له یاده ونه باسو، د رشاد پوهنې له مخې موږ په دغه برخه کې خپله دفاع یوازې اویوازې په سالمه توګه دادبیاتوله لارې د ادبیاتوپه وسیله کولای اوهم پریوه مثبت لوري له یوه مثیت اومعقول ذهنیت سره لاس په کارکیدای شوو. د رشاد پوهنې له مخې دادب اوادبیاتوترټولو مهمه دنده اوونډه داده چې دنړۍ په اړه ، دهغه ځای په اړه چې هلته موږ ژوند کوو زموږ انفرادي ځواب اوعکس العمل ثبتوي. ځکه چې انساني تجربې په خپله داتوان لري چې زموږ په آثارو کې ایجادشوي اوخوندي شوي ارزښتونه اوبحثونه توضیح اوتشریح کړي.

رشاد پوهنه موږته په علمي ډګرکې دغه ټکي را په ګوته کوي چې کله موږ یوادیب، یوایجادګر اویا دهغه اثرڅېړو په هغه کې ترهرڅه دمخه موږ دکرکترونو، احساساتو اوآزموینو ترمنځ د ورته والي خبره په پرتلیزه توګه څېړی لیدای اوترلاس لاندې نیوی شو، ځکه چې ادبیات هم په خپله داسې څه نه دي چې هغه به په خپل جوړښت کې خپله اودنورو پرتله، اهمیت اوورتیا په پام کې ونه شي نیولای. رشاد پوهنه دادبیاتواوادبي ایجادیاتواوڅېړنوپه برخه کې د لوستونکی دنده هم له پامه نه غورځوي ځکه چې ددغې پوهې (رشاد پوهنې ) له مخې لوستونکي خپله اودنورودپاملرنې اوپه وروستي تحلیل کې دقضاوت دنده هم له پامه نه شي غورځولای اونه باید په دغه برخه جدي دقت له پامه ولویږي. په دغه برخه رشاد پوهنه دنړیوال علمي پرنسیپ له مخې پردې باوري ده چې لوستونکي ( دنظرخاوندان) کولای شي انساني اوکایناتي تجربې دیوه بې ساري اصل په توګه دهراثراوایجاد په ترڅ کې کشفې کړي اوهم په دغې وسیلې سره دوی کولای شي چې خپله دنیا اویادهغې هغه برخه چې دوی نه وي لیدلې هم ووینې اوهم یې تشخیص کړي.

په عین حال کې د رشاد پوهنې **علمي اصول اودڅېړنې میتودلوژي** دامنې چې دادبیاتوپه اړه دلوستونکي (بیاهم نظروال لوستونکی) لوی دریځ اوپوښتنه دهغه پرکار، تجربه اوآزموینه باندې ولاړدي، چې دغه دریځ یې په خپل واردلیکوال اوایجادګرله اړیکو، استعداد اوایجادي مهارتوسره هم نیغ تړلی دی اوپه پای کې بیا دغه لړۍ په طبعي توګه دلیکوال ، کتنه، دهغه اخیستنه اوپه اثرکې ټولنیزارزښتونه دهغه دریځ، ایدیالوژیکي تړاو ، تاریخي اوټولنیزو اړخونوهم په ډاګه کولای شي.

اوس همدومره
درناوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ